# د غني خان په شاعرۍ کښې انګريزي دخيل لغتونه

## (Adopts word in poetry of Ghani Khan)

Dr Faqir Muhammad Faqir *
Dr. Ahmad Ali Aajiz**

**Abstract**

In the course of continuous evaluation of human life, the speed of social development and change is accelerating. Every nation and country of the modern world is seeking for inter-dependence on each other in the sphere of progress, needs and ease. The mutual transportation of products. Natural resources, other material needs and objects compel nations to interact with each other. Consequently, these mutual inter-relationships and inter-actions unconsciously affect the vocabulary of languages of the respective nations and ethnicities. The terms and words of one language affects the other one and vice versa. Resultantly, languages assimilate different terms of words in their languages globally.

With the passage of time, these borrowed and assimilated words become the integral part of the native language which albeit couldn't possible to imagine it as alien words. Speakers of that language then conceive it as their own and impossible for them to omit because of its permeation in the common population of speakers.

Similarly, in the poetry of Ghani Khan, he used ample vocabulary of Arabic, Persian, Urdu and English, but here, the researcher is specifically limited to the English adopt words in his Pashto poetry.

**Key Words:** human life, social development, inter-dependence, inter-relationships, alien words,

ژبه د انساني تاريخ د ټولو نه لوے ايجاد او کارنامه ده او دا د دې ژبې برکت دے چې انسان د کائنات رازونه ښکاره کوي. د سمندر په تل کښې لټون کوي په سپوږمۍ قدم ږدي او لا نور په بره روان دے.

---

* Lecturer Pakhtunkhwa Study Centre Bacha khan University Charsadda
** Assistant Professor Department of Pashto UOP

د ماضي د ارتقاء په پوړو موجوده دور کښې که تر سپوږمۍ او مريخ ته رسېدلے دے نو راتلونکي وخت کښې د وېړ کائنات نه د پرده وچتولو او تسخير خوبونه ويني ـ ژبه يواځې د خيالاتو، احساساتو، جذباتو او پوهې راپوهې د ترسيل ذريعه نۀ ده ـ د تهذيب، ثقافت، تمدن، عقيده، نظريو امانتداره او د سائنس د موجوده ترقۍ ضامنه هم ده ـ د يو يو لفظ شاته د رواياتو او تاريخ قيصه خوندي وي ـ د انسان دا ترقي او لوے مقام هم د دې ژبې له برکته دے ـ

کله چې انسان دومره ترقي نۀ وه کړې نو ضرورتونه کم وو ـ د تګ راتګ وسيلې نۀ وې ـ د نورو لرې لرې ملکونو سره رابطې کمې وې ـ د ژوند او معاشرت څيزونه د خپلو خپلو علاقو پورې محدود وو ـ څومره چې د ژوند ضروريات محدود وو دغسې ژبه او لفظونه هم لږ وو او په دغو مطلب او غرض تر سره کېدلو ـ کله چې انسان د ارتقائي لارې چارې په لټون کښې د محدود چاپېرچل نه ووتلو نوې نوې څيزونو، حالاتو، نظرياتو او بدلون سره مخ شو نو د دغه نوښت د پاره او د دې د اظهار د پاره د نوؤ لفظونو ضرورت پېښېدلو ځکه چې ژبه د معاشرې پېداوار دے او د معاشرې د بدلون سره بدلېږي ـ د چاپېرچل او معاشرې اثر صرف په انسانانو نه وي په ژبه هم وي ـ

په دې اړه خيال بخاري خيال څرګندوي ـ : "د قامونو د ترقۍ او زوال سره د هغوي د ژوند د معاشرې، د تهذيب او تمدن اوچتېدل او غوځېدل هم وينو ـ ولې که پام وکړو نو د قامونو د ثقافت دغه مرکزي نقطه يعني ژبه هم په دغو لوړو ژورو کښې ورسره جخته روانه وي ـ" (۱)

څومره چې معاشرتي ضرورتونو د ساده ژوند نه جديد او پرمختيا اړخ ته يون وکړو نو ژبې هم په خپل وجود کښې د دغه پرمختګ د اظهار د پاره په خپل وجود کښې اضافه وکړه او دغه مزل روان او په تسلسل جاري دے ـ ډاکټر دولت محمد لودين دا حقيقت داسې په ډاګه کوي:

> "څومره چې د لومړيو انسانانو ژبه ډېره ساده مرحله کښې وه هغه رنګ تفکر هم په لومړني حالت کښې وۀ ـ اوس ليدل کېږي څومره چې د ژوند انۀ په اړخونو کښې پرمختيا راځي په هغه اندازه ژبه او تفکر تکامل کوي او پر مخ ځي" (۲)

د انساني او معاشرتي ژوند د ترقۍ سره انسان هره ورځ نوي څيز او بدلون سره مخ کېږي ـ ټول قامونه او ملکونه د ژوند د اسائش، ترقۍ او ضرورتونو د پاره يو بل ته احتياج لري ـ د مصنوعاتو، قدرتي څيزونو، ضرورياتو او الاتو لېن دېن کوي او په دغه سلسله کښې په غېر شعوري طريقه د ژبې د لفظونو ورکړه راکړه کېږي ـ دغسې هرې ژبې ته د بلې ژبې لفظونه په مستعار شکل کښې داخلېږي او دا د هرې ژبې مجبوري ده ـ دغه مستعار لفظونه کله کله د وخت په تېرېدو يوه ژبه کښې داسې داخل شي چې د پردي لفظ ګمان هم پرې نۀ کېږي ـ لکه قلم،

علم، کتاب، صبر، ظلم، اثر، عقل، فکر عام خلق د عربۍ ژبې توري نهٔ ګڼي ـ نهٔ عام اولس سائېکل، بوتل، بوټ، پالش، بازار، کاپي او بلب غوندې لفظونو ته دا پام کوي چې دا انګريزي دي ـ کله چې يو لفظ داسې مقام حاصل کړي دخيل ګڼلے شي او د ژبې حصه شي ـ دا قسم لفظونه ژبې ته بغېر د لفظي او معنوي بدلون داخلېږي ـ

Borrowed words are pronounced according to the phonological rules of the borrowing language. (۳)

ترجمه: د مستعارو يا دخيلو لفظونو تلفظ د اصولو او قاعدو مطابق د خپلې اصلي ژبې په رنګ کېږي ـ د دنيا يوه ژبه هم داسې نشته چې د پردو لفظونو د استفادې نه بغېر خپل وجود ژوندے اوساتلے شي ـ ځکه هره ژبه دغه لفظونه قبلوي او په دخيل صورت کښې د خپلې ژبې لفظ وي ـ ډاکټر شوکت سبزواري ليکي:

*"دخیل الفاظ کے لئے اپنانا ضروری ہے۔ جب تک یہ اجنبی الفاظ عام طور سے استعمال نہ ہوں۔ زبان میں اچھی طرح رچ بچ نہ جائیں اور دوسرے الفاظ کے ساتھ گھل مل کر ایک نہ ہوں۔ انہیں دخیل الفاظ کا درجہ حاصل نہ ہوگا۔" (۴)*

دخيل لفظ د خپلې ژبې لفظ ګڼلې شي ـ او له ژبې ويستلے هم نهٔ شي ـ ځکه چې اولس کښې عام شوي وي ـ که بل لفظ د هغهٔ مفهوم د پاره جوړ هم شي نو عام کېدلے نهٔ شي ـ

مجاور احمد زيار د لفظونو د ورکړې راکړې په اړه ليکي ـ

"کومې اغېزې چې له نورو ټولنو څخه يوې ټولنې ته لاره پېدا کوي ارو مرو په کښې ژبنۍ هغه هم راځي ځکه چې ژبه يا د ژبې د هر راز ټولنيزو اړيکو د ټينګولو تر هر څهٔ غوره وسيله ده او د هغو په سر کښې ځاے نيسي ـ پښتو ژبې هم تل د خپلې پښتنې ټولنې په ټول بشپړتيائي بهير کښې په زړهٔ پورې برخه اخيستې او په دې ترخ کښې ئې د نورو ګاونډيو ټولنو د ژبو اغېزې پر ځان منلې اوخپلې اغېز ئې هم پر خپل وار پرې شيندلې." (۵)

دغسې دغه دخيل لفظونه د عام اولس د ژبې حصه هم ده ـ د علم و شعر ژبه کښې هم ځاے شوي او د مودو مودو په تېرېدو ئې پرديتوب ختم شوے او اوس پرې عام خلق د پردۍ ژبې د لغت ګمان هم نهٔ کوي ـ د غني خان په شاعرۍ کښې د عربۍ، فارسۍ، انګرېزۍ او اردو ژبې نه علاوه د ځينې نورو ژبو دخيل لغتونه هم په نظر راځي او ډېر په هنر ئې استعمال کړي خو دلته صرف د انګرېزۍ د دخيل لفظونو خبره کېږي ـ انګرېزي يوه بين الاقوامي ژبه ده پخپله ئې هم له نورو ژبو

نه لفظونه اخیستي او په مشکله دېرش فیصدي خالصه ده او دغسې ئې تقریباً د دنیا په هره ژبه خپل اثر هم کړے دے۔ او بیا د سائنس او ټېکنالوجي په دې اقتصادي دور کښې ئې اثر نور هم زیات شوے دے۔ هر نوے څیز د خپل نوي نوم سره نورو ژبو ته داخلوي۔ په پښتو ژبه هم د انګرېزۍ ډېر اثر دے او په سوؤنو مستعار لفظونه ئې ترې اخستې دي او په ګڼ تعداد لفظونو ئې دخیل شکل هم اختیار کړے دے۔

د غني خان د شاعرۍ لساني یا ژبپوهنیزې څېړنې او مطالعې نه د هغهٔ په ژبه د ګرفت او هنر اندازه لګي۔ د هغهٔ په شاعرۍ کښې ډېر زړهٔ پورې نادر لغات، نوي ترکیبونه، نوي لغتونه، نوي اصطلاحات، مرکبات او محاورې په نظر راځي ۔ که دا کوشش ئې شعوري او که غېر شعوري وي خوپه لساني حواله د هغهٔ شاعري په دې حواله ځانګړے مقام لري ۔ د دخیل لفظونو استعمال هم ژبنې ارزښت لري او هره یوه ژبه له څلورو توکو نه جوړېږي۔ په هغو کښې سوچه یا خالص توري، زاړهٔ توري، نوي توري او مستعار توري په یو تناسب یعني پنځویشت پنځویشت في صدي حصه لري۔ د غني خان په شاعرۍ کښې د انګرېزۍ دخیل لفظونه دا دي۔

سګرټ

د سګرټو بېخ مې وښکهٔ
سر مې خوږ که په ګرولو(۶)

په دې شعر کښې د انګرېزۍ لفظ سګرټ پښتو ته داسې داخل شوے دے چې هر خاص و عام ئې هم په دغه نوم پېژني۔ بل دا چې د قواعدو په لحاظ هم پښتو شوے دے۔ لکه د سګرټ جمع سګرټونه څنګه چې لښکر لښکرونه او سر سرونه دے۔

پوډر:

تریو تندے پوډري مخ ئې وهٔ
تا به وې وهٔ د لټانو د محلته(۷)

پوډرهم پښتو شوے دے او د ژبې د قاعدو مطابق د اسم نه پوډري فعل جوړېږي۔

فېشن

د ډوډۍ او د فېشن سره ئې شوق وهٔ
ډېر نفرت ورله ورتهٔ له جماعته(۸)

فېشن پښتو کښې عام استعمالېږي. فېشن اسم نه فېشني اسم صفت د پښتو قاعدې مطابق جوړېږي.

لیډر:

خـــو د کرســـۍ پـــه تـــرخ کښـــې
نیکـــــۀ بابـــــا دے لیـــــډر
خـــدائیگو نـــۀ ســـتا دے لیـــډر
او نـــــۀ زمـــــا دے لیـــــډر(۹)

ډاکټر:

سپے ډاکټر په اوږو سترګو د خان شنۀ لوټونه شماري
که دے مري هم ورته نۀ ګوري د غریب نصیب هم خوار وي(۱۰)

اسپتال:

که څۀ ګور کفن له ایښې خپلوان سپي ته ئې ورواچئ
اسپتال کښې ئې داخل کړي شپېتو نورو سره ئې واچئ (۱۱)

موټر:

که وي د چا موټر
درنه لږ لوے او ښکلے(۱۲)

سټېج:

لالا مې افلاطون دے د تقریر او د تکرار
لالا مې پاس په سټېج کړي د زمري په شان غرار (۱۳)

کوټ:

شمله دې نېغه ده
او کوټ دې برګ دے(۱۴)

جېل:

یا د جېل کوټګۍ کښې خوبونه د کور
او ایرو کښې ارمان د رڼا او د اور (۱۵)

رجسټر:

زما نوم هم کړه لیک د تابعدارو رجسټر کښې
دا سر مې شه قربان ستا ملګرو په لښکر کښې (۱۲)

انجکشن:

پېچکاري دې ترې وي ډکه
وهي هر چا له انجکشن (۱۷)

پولیسان: پولیس انګرېزي لفظ دے او د پښتو د قاعدې مطابق ئې جمع کولے شي. ځکه چې پښتو کښې دخیل تورے دے.

وې وې بچیه ملک کښې هر څوک راته مالدار وائي
ټول پولیسان راته غاصب او نمبردار وائي(۱۸)

میټر:

لویه اوږده ربېره وروره اوږد امدن لري
صبب ولګاوؤ د هر وکیل په خولهٔ میټر۱۹

مشین او ټېکس:

دا هم یو مشین دے تېز رفتار لکه موټر
صبب ټېکس به اخلي د بکواس او د ټرټر۲۰

نمبر، مس:

نن چې د مس ګوټې د بابا په کور داخل شو
لسو ته ئې نمبر ورکړو وې وار د غني خان دے۲۱

ډرائیوري:

تلے دے لندن ته مجنون هلته ډرائیوري زده کړ
اوښه لیلی خرڅه کړه موټر کښې ګرځېدله۲۲

بېټري:

راشـــــــه زمـــــــا وروره
د یـــــار ســـــترګو تـــــه بېټـــــري وایـــــه

گـــــــــل او بلبـــــــــل پرېـــــــــږده
الجبـــــــره او جيـــــــومټري وايـــــــه۲۳

پنسن: د پنسل مفغن دخيل شکل

پنسن مې بخمير ورک که قلم تش د سياهۍ
کوټه کښې يخ او تريخ لوګے بهر يخه سيلۍ۲۴

سوټ:

سوټ مې واغوست جهالت ته په غضب شوم
ما وې واوره بابا اوس زۀ مهذب شوم۲۵

په دې شعرونو کښې الجبره او جيومټري هم دخيل لفظونه دي۔

ډرائيوري دخيل لفظ دے چې د پښتو د قاعدې سره سم د اسم نه فعل هم جوړېږي لکه ډرائيور اسم نه ډرائيوري فعلي صورت اختيار وي۔

د غني خان په شاعرۍ کښې دغه شان نور هم انګريزي دخيل توري شته۔ د مستعارو ترجمو نخښې هم لري او مخلوط مرکبات هم يعني يو لفظ د انګرېزۍ او بل د پښتو، دغسې د نورو ژبو هم، بل د انګرېزۍ او پښتو اشتقاق (Affixation) هم لري۔ لکه مس ګوټې۔ پوليس انګريزي لفظ سره "ان" لاحقه لکه پوليسان، ليډر، ليډران، او دغسې نور لفظونه هم شته خو د مثال د پاره دغه نمونې وړاندې شوي دي۔

## حوالي:


۱. خیال بخاري، د پښتو ژبې بنیادي مسئلې، مشموله، پښتو، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي، ۲۵-۱۹۷۴ء، مخ ۱۲۱
۲. لودین، دولت محمد، دکتور، ژبه او ټولنه، جلال کوټ، ختیځ ادبي بهیر، ۱۳۹۵ء مخ
۳. Kristyna, kobova, Neologism in English, deptt of English and American studies, Masaryk University. P . 14
4. شوکت سبزواری، ڈاکٹر، اردو لسانیات، کراچی، ترقی اردو بورڈ، ۱۹۶۶ء، ص ۱۵۵
۵. زیار، مجاور احمد، دوکتور، پوهاند، لیک لارښود، دساپي پښتو څېړنې او پراختیا مرکز، ۲۰۰۶ء، مخ ۵
۶. غني خان، لټون، پېښور، یونیورسټي بک ایجنسي ۲۰۱۲ء، مخ ۵۲۲
۷. هم دغه اثر، مخ ۵۲۲
۸. هم دغه اثر، مخ ۵۲۲
۹. هم دغه اثر، مخ ۴۲۷
۱۰. هم دغه اثر، مخ ۲۲۹
۱۱. هم دغه اثر، مخ ۴۹۹
۱۲. خان، عبدالغني خان، د غني کلیات، کابل، د قومونو او قبائلو وزارت، ۱۹۸۵ء، مخ ۲۹۲
۱۳. عبدالغني خان، د پنجرې چغار، پېښور، یونیورسټي بک ایجنسي، ۱۹۵۶ء، مخ ۲۱۱
۱۴. هم دغه اثر، مخ ۱۲۰
۱۵. هم دغه اثر، مخ ۳۷
۱۶. هم دغه اثر، مخ ۱۲
۱۷. لټون، مخ ۱۲۰
۱۸. هم دغه اثر، مخ ۳۰
۱۹. هم دغه اثر، مخ ۱۱۰
۲۰. هم دغه اثر، مخ ۱۱۰
۲۱. هم دغه اثر، مخ ۱۱۱
۲۲. هم دغه اثر، مخ ۱۱۱
۲۳. د غني کلیات، مخ ۱۹۸
۲۴. لټون، مخ ۵۷۱
۲۵. هم دغه اثر، مخ ۱۱۲